AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

غلام جيلاني څواک
ايديت: ايمل خان فيضی

2009 /12/16

# هڅه کيږي چې د پارلماني انتخاباتو مخه ونيول شي

**هڅې کيږي چې دافغانستان انتخاباتي موسسي او د افغانستان د واک او اقتدار موسسې کمزورې کړاي شي، ترڅو اوبه خړې کړاي شي او کبان ونيول شي.**

د رسنيو د راپورنو له مخې ويل کيږي چې د ځينو هيوادونو سفارتونه په دې هڅه کې دي چې د افغانستان د ولسي جرګې د انتخاباتو، چې د راتلونکي کال په دوبي کې به ترسره شي، مخه ونيسي.

د جمهوري رياست د انتخاباتو سره چې څه وشول هغه ټولو وليدل. د انتخاباتو څخه دمخه، د انتخاباتو پرمهال او د انتخاباتو څخه وروسته د بهرنيو لوڅو او بربنډو لاسوهنو، توطئواو تبليغاتو د افغانستان د جمهوري رياست ګټلي انتخابات دويم پړاو ته واړول او بيا د ډاکټر عبدالله لخوا په انتخاباتو کې د نه ګډون له امله د انتخاباتو د دويم پړاو مخه ونيول شوه، او لکه څرنګه چې توطئه ګرو غوښتل همغسې وشول، انتخابات بدنام شول، او په هغو خامو ذهنونو کې چې لا د دوستانو او دښمنانو توپير نشي کولاي او اوس يې هم په خبرو باور کوي، د انتخاباتو د پايلو د مشروعيت او قانونيت په اړه ډير سوالونه پيداشول. دا سوالونه به هم د دې خاموذهنونو لخوا او هم دهغو ډلو ټپلو لخوا چې پرديو سره په بيلابيلو مزو تړلي دي، مطرح کيږي او د عامو خلکو ذهنيتونه به همداسي مغشوشوي: په اصطلاح اوبه به خړيږي او کبان به نيول کيږي.

او اوس هڅه کيږي چې د پارلماني انتخاباتو مخه ونيول شي.

زه په دې لنډ بحث کې نه غواړم د دې موضوع په قانوني اړخ وغږيږم، پريږده چې دا کار کوم قانونپوه وکړي. خو غواړم په دې وغږيږم چې ولې هڅه کيږي د پارلماني انتخاباتو مخه ونيول شي.

هغه دلايل چې په دې اړه وړاندې کيږي، ډير په زړه پورې دي، راځئ يوه دوه دليلونه يې وګورئ او په خلاص زړه پرې وخاندئ، او که موفرصت درلود نو بيا پرې لږ وژاړئ هم.

هغه څوک چې تصميمونه او پريکړې يې زموږ د ملت په راتلونکي اغيزه لري او اوس زموږ د نن او صبا ښه او بد تريو حده هغوي پورې تړلي دي، يا خو په څومره فکري افلاس اخته دي او يا خو موږ ته د بد نيت سره زموږ په وړاندې څومره کبر، غرور او بې پروائي لري.

د ولسي جرګې انتخابات بايد ترسره نشي: ځکه چې د اوباما د نوې پاليسي پراساس په راتلونکو اتلس مياشتو کې به بهرني پوځونه د ترهګرۍ سره په جګړه بوخت وي او غواړي په دې موده کې د ترهګرو ملا ماته کړي، ( ماشاالله)، ترڅو د ستراتيژۍ د نورو ټکو د پلي کولو لپاره لاره سمه شي، او که بهرني پوځونه د انتخاباتو د امنيت په نيولو مصروف شي نو اصلي جګړه به ترې پاتې شي. ګواکې د ترهګرۍ سره جګړه او د امنيت ټينګول بيل بيل شيان او يو بل سره په تضاد کې دي. بهرني پوځونه که په امنيت ساتلو بوخت شي نو بيا به جګړه نه شي کولاي. د جګړې هدف خو د امنيت ټنګول دي، که د جګړې موخه د امنيت ټينګول نه، کوم بل څه وي، نو دا به دوی ته مالوم وي.

د ولسي جرګې انتخابات بايد ترسره نشي، ځکه چې پيسې نشته: کله چې هڅه کيده د جمهوري رياست انتخابات دويم پړاو ته واړول شي، د انتخاباتو د کميسيون څخه نيولې، تر بهرنيو، ټولو ويل د انتخاباتو د دويم پړاو لپاره د دوي سره هم پيسې شته او هم لازم چمتووالي، خو اوس ويل کيږي چې د ولسي جرګې انتخاباتو لپاره پيسې نشته.

حقيقت دادي د ولسي جرګې د انتخاباتو د مخنيوی لپاره کوم دلايل چې ويل کيږي، ټول پوچ او بې مانا دي. دا فقط پلمې دي او حقيقت سره هيڅ کوم تړاو نلري، اصلي هدف هماغه د اوبو خړول اود کبانو نيول دي.

د افغانستان د اساسي قانون پراساس يواځې دوه موسسې دي چې د ولس استازيتوب کوي، يو يې د جمهوري رياست مقام دی، چې نيغ په نيغه د خلکو په رايو ټاکل کيږي، اوبل يې ولسي جرګه ده، چيرته چې دخلکو استازي راټوليږي.

دې کړيو وکولاي شول د جمهوري رياست انتخابات بدنامه کړي او د ستونزو سره يې مخ کړي، او اوس د پارلماني انتخاباتو وار دی. **هدف دادې چې په افغانستان کې د افغانستان د واک او اقتدار او د ولس د استازيتوب، دا دواړه ستنې کمزورې کړاي شي، د دواړو مشروعيت او قانونيت ترسوال لاندې راشي او دا دواړه موسسې د خلکو د استازيتوب پرځاي د دوې استازيتوب ته غاړه کيږدي.که په افغانستان کې يو مشروع قانوني او مظبوط د جمهوري رياست مقام او پارلمان وجود ولري، نو د دوې هغه غوښتنې چې د افغانستان د اساسي قانون او د افغانستان ګټو او د افغانستان دخلکو د غوښتنو سره په تضاد کې وي څرنګه ومنل شي. /پای/**



افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بداريد.